# د اجمل خټک صېب په اعزاز کښې

# ثلور ورځنۍ ادبي ثقافتي مېله

پښتون رپورټر

اے پښتنو هېر نۀ کړئ دا ستاسو ملنګے خټک
وخت به درنه داسې لېونے ګورې بيا هم غواړې

د توري او قلم خاوند خوشحال خان خټک د حقيقي وارث افاقي شاعر او اديب محترم اجمل خټک په اعزاز کښې چې د کلي د ثقافتي او ادبي ملګرو له خوا کومه ثلور ورځنۍ مېله شوې وه، د هغې په اخر کښې د ارګنائزنګ کمېټۍ د غړو له خوا د هغۀ په اعزاز کښې يو ادبي پروګرام هم د مۍ په دوېم تاريخ د خالي په ورځ د اتوار شپې له شوے ؤ. خټک صاحب دا وخت د بيمارۍ په حالت کښې دے، بيا هم د پروګرام د اغاز نه مخکښې په ويل چئير کښې مېلمنو ته نۀ يوائې سترې مۀ شې ته راووتو، بلکې تر ډېره ئې په سټېج خپله ناسته هم يقيني کړې وه. د تقريرونو، مقالو او نظمونو غزلونو د دغه مجلس صدارت رحمت شاه سائل وکړو او مشر مېلمه پکښې شاعر امن پيرګوهر د مردان ؤ. فضل اکبر سېلاب چې په سټېج د مېلمنو سره ناست ؤ، هغۀ د اجمل خټک په ژوند، فن او سياست رڼا واچوله. سېلاب صېب د اجمل خټک ګفتار او کردار د يو بل داسې آئينې وګڼلې، کومې چې يو بل ته مخامخ شي نو هغه د رحمان بابا خبره چې:

زۀ و يار چې خپل غمونه سره شمار کړو
يار و ماته حېرانېږي زۀ و يار ته



اکبر حيات کاکاخېل په خپلو خبرو د اکادمي ادبيات کمال فن اېوارډ ته اشاره وکړه او وې وئيل چې د دغه ايوارډ پنځۀ لکه روپۍ خټک صېب هغوي ته د دې دپاره ور واپس کړې چې دا د غريبو شاعرانو په ښه راولي او دغسې اجمل خټک صېب د ژوند په اخري لمحو کښې هم د خپلو غريبو ولې نرانو همسفرو ليکونکيو سره د مينې دغسې اظهار وکړو.

شاعر امن پير ګوهر د خپلې ځوانۍ د وختو د خټک صېب او د هغۀ د هغه وخت د همفکرو ملګرو او د هغوي سره د خپلې ملګرتيا ذکر وکړو او هغۀ د اجمل خټک د هغۀ د يو غزل درې ثلور داسې

شعرونه واورول چې شاید لا تر اوسه چاپ نهٔ دي. اکرام الله ګران په خپلو خبرو کښې د هغوي فکر و فن او ایماندارانه ژوند او رویو ته خراج عقیدت پېش کړو.

ډاکټر خالق زیار په کابل کښې د خپل سبق په دوران کښې چې کومه ناسته پاسته د خټک صېب سره کړې وه، د ډېرو واقعاتو ذکر ئې وکړو. ډاکټر صېب ووې چې د خټک صاحب فن او سیاسي ژوند داسې د یو بل لازمي برخې وې چې د یو بل نه جدا کېدے نهٔ شوې. دا د هغه کمال ؤ. دغه دواړه برخې د یو بل نه شوکول د هېچا د وس خبره نهٔ وه او د خټک صېب کمال دا دے چې د ژوند دغه دواړه برخې ئې د یو بل سره تړلې تر دې ځایه را ورسولې، مونږ ته د هغه حوصله او فکر نن هم ډاډ راکوي چې هغه تر اخره نهٔ یواځې یو سیاسي شخصیت وپالهٔ، بلکې یو فني او فکري تسلسل ئې زمونږ په ذهنونو کښې هم داسې وساتهٔ چې نن هم چې هغه شعر لیکي نو کهٔ په خپله هر څومره بوډا او بیمار دے خو په شعر، فن او په فکر کښې ئې نهٔ بوډاتوب شته، نهٔ دورنګي او نهٔ څهٔ نوره بیماري. رحمت شاه سائل په خپلو خبرو کښې ووې چې خټک صېب د خوشحال بابا نه ځلور سوه کاله پس نهٔ یواځې د هغه یو ربښتونے وارث بلکې د نوي دور یو داسې نمائنده فنکار شاعر دے چې په یو وخت ئې د فن او فکر نه یواځې نوې لارې پرانستې بلکې په نوي نسل کښې ئې د شعور داسې کرونده وکړه، دا چې نن تاسو څهٔ وینئ څهٔ اورئ دا په اصل کښې د خټک صېب د شعري چینې هغه رڼې اوبهٔ دي کومې چې نهٔ تر اوسه وچې شوې دي او نهٔ به وچې شي. هغه ووې چې خټک صېب زمونږ د دې دور د ټولو شاعرانو یو روحاني استاذ دے، هغه مونږ ته په خپل نظم کښې هم داسې غنائیت او نوے والے بخښلے دے، بلکې د پښتو غزل ئې هم د ژوند د کړمو سره اشنا کړے دے.



د ښاغلي اجمل خټک د ځوانۍ عکس

پـه لمبـو سـوے د زړهٔ کـور ښـهٔ دے
چې بې لـه تـا شـي پکښې اور ښـهٔ دے

راشـئ د خُلـې نـه مـې کاسـې واړوئ
پـه مـا د یـار د یـادولو وخـت شـو

کـهٔ ژاړې ژاړه خـو پـه زړهٔ دننـه
د خلقـو مخکښـې د خنـدلو وخـت دے

په دې تقریب کښې په شلګونو شاعرانو نهٔ یواځې شرکت وکړو، بلکې خټک صېب ته ئې منظوم عقیدت هم پېش کړو. د رنګ، رڼا، مینې او عقیدې دغه مجلس درې بجې هم چې لا سرته نهٔ ؤ رسېدلے خو د سبلۍ د لاسه سر ته ورسېدو.